مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۱/۲۲

# غزل

زړه مې ماشوم دی د اسمان خبره کله مني
ماته بېړی مې د توپان خبره کله مني
چې يې د لمر و پلوشو ته وه دامونه ايښي
اوس په تياره کې د جهان خبره کله مني
چې له ازله يې له شپو سره عادت کړی دی
ړانده وګړي د زمان خبره کله مني
دلته د جام او د خيام نظمونه مه شرنګوه
دا محتسب دی د مُغان خبره کله مني
چې د پنځو زرو کلونو الاهو زنګوي
دا د خوبونو پهلوان خبره کله مني
ستا نصيحت به شنوا نه کړي دا کاڼه غوږونه
«کنځ خو به وايی ملايان خبره کله مني» ([1])
زه خو يې سل ځله بللی تر درشله يمه
خو زما د مينی رقيبان خبره کله مني
موږ خو به شپې کړو د رحمن په آيتونو سپينې
دا ابوجهل د قرآن خبره کله مني
ما تر منزل پورې اغزي په مزل وسولول
رويبار به ورسي خو جانان خبره کله مني
ما خو ويل چې مې لحد پر کندهار غواړمه
پردېس قسمته ګورستان خبره کله مني
جهاني ډېر به دې قلم کړې په ليکلو ستړی
ستا د نظمونو غليمان خبره کله مني.

[1] ـ پښتو متل. «کنځل خو به وايی که يې ملا فاروق ومني»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ